

نن په ځنګل کښې ټول مارغان را ټول شوي وو او ګپ شپ ئې لګولو- بلبلې به ملا چړګک ته د مینې نه ختمین وئیل او ملا چړګک به بلبلې ته شانو وئیل- ناګهانه ختمین ته رایاد شول چې سبا د شانو سالګره ده- د ټولو په دې صلاح شوه چې د شانو سالګرې له به ټول ځو- په دې کښې یخ باد راغے او ټول مارغان خپلو ځالو ته والوتل-



ماښام ختین لاړو او د شانو مور پلار نه
ئې د سالګرې نمانځلو اجازت واخستو-
بله ورځ ټولو دسالګرې تیارۍ شروع
کړې- مرغۍ، طوطي او کونترې په
شریکه کېک تیار کړو او ټپوس پرې د
شانو نوم ولیکلو- ختین شمعې راوړې-
کارغهٔ او ښارو د خوراک خونده ور
څیزونه راوړل-



ټول داسې خوشحاله وو لکه چې اختر وي- کوړ کوړې او ښارو په خپله خپله تحفه کارډونه ولګول او مرغۍ پرې ګل هم کېښودو- هغوي د شانو دکور نه بهر ګلونه او رنګ په رنګ پوکنۍ هم زوړندې کړې. کوړکوړې سندره شروع کړه- شانو چې سندره واورېده نو بهر راووته- ټولو وئېل، سالګره دې مبارک شه-



شانو د تحفو ډبي پرانستل- کارغه ورله
امېل راوړے ؤ- خټين د قيصو کتابونه
ورکړل، ښارو رنګين پنسلونه په تحفه
کښې ورکړل- پلار ورله تاج او مور ورله
ښائسته پېزار ورکړو-



شانو په دې ټول انتظام او تحفو دومره
خوشحاله وه چې مخ یې د خوشحالۍ
نه رڼا کوله- ټول ملګري ئې د خپلې
منصوبې په کامیابۍ ډېر خوشحاله وو-
هغوي چې د شانو مخ ته کتل نو زړونه
یې د خوشحالۍ نه من من غټ شول-



په اخر کښې د شانو پلار ټولو له شربت راوړو- ختمين چائې او نورو ټولو شربت وڅښلو- ټولو خپلو کښې ګپ شپ ولګولو- کونترې د ټولو پام ګړۍ ته راوګرزولو چې ناوخته شو-



شانو او مور پلار يې ټولو
ملګرو ته مننه ووئيله- ټولو د
يو بل نه رخصت واخستو او خپل خپل
کورونو ته روان شو- ټول ملګري ډېر
خوشحاله وو-

# بګ بکس

## د اول جماعت د پاره

پاکستان ریډنګ پراجېکټ (USAID-funded Pakistan Reading Project) پېنځهٔ کلن پروګرام دے چې ، د بېن الاقوامي ترقۍ دپاره امریکائي اداره (USAID) په مدد سره چلېږي- ددې پروګرام مقصد په پاکستان کښې د صوبائي او علاقائي تعلیمي محکمو په تعاون سره طالبعلمانو کښې د لوستلو مهارتونه ښهٔ کول دے-دې پراجېکټ په 2013ء کښې د اردو او سندهي لوستل د زده کړې مواد جوړول شروع کړي وو- تقریباً پېنځلس زره استاذانو د اول جماعت ماشومانو ته ددې موادو ښودنه وکړه- استاذانو ته د تربیت ورکولو په وخت د ښودنې په نوؤ تجربو یا د موادو په حواله چې کومې ستونزې مخې ته راتلې نو پي- آر- پي د هغې ډېر په غور سره تجزیه کوله- دې سره سره پي -ار- پي د صوبائي او علاقائي تکنیکي ټولګي د غبرګاوي (feedback) او د پراجېکټ په مینځني دور کښې د هغو رپورټونو تجزیه هم وکړه، کوم چې د طالبعلمانو د لوستلو مهارتونو په حواله تیار کړي شوي وو- ددې ټولو نتیجو په بنیاد ، پي -ار- پي د پښتو د لوست د ښودنې مواد هم تیار کړو. دا مواد به په شل سکولونو کښې استعمالېږي-

بګ بکس هم ددې ښودنې د موادو یو اهمه برخه ده- چې د اول جماعت د پاره لیکلې شوي دي-

استاذان به روزانه د دې کتاب په اوچت اواز د لوستلو مشق کوي- یو بک بګ به په یوه هفته کښې لوستلے شي- د هر بګ بک په شاتني مخ د ماشومانود لوست او تفهیم مهارتونو د ودې د پاره سوالونه او سرګرمۍ ورکړې شوي دي- په اوچت آواز د لوستلو په وخت مختلف اصول په نظر کښې ساتلي شوي دي مثلاً د مخصوصو موضوعاتو انتخاب، د ماشومانو ذهني سطح، ساده او مناسب ټکي او د ماشومانو دلچسپۍ د پاره واضحه تصویري خاکې وړاندې کول وغېره-

امید لرو چې ددې محنت او کوشش په نتیجه کښې استاذان د ماشومانو د لوستلو مهارتونه مثلاً صوتي اګهي، علم الاصوات، دالفاظو ذخېرې ،د لوستلو رواني او سوچ کولو ته عملي جامه واغوندوي- خصوصاً دا بګ بک به د سکول د لائبرېرۍ برخه وي چې راتلونکي ماشومان هم ددې نه فایدې واخلي او پښتو لوستلو کښې د دلچسپۍ دا سلسله روانه په روانه پاتې شي-

مونږ دا امید کوو چې د پاکستان ریډنګ پراجېکټ دا کوشش په پرائمري سکولونو کښې د ماشومانو د لوست معیار ښهٔ کولو کښې مددګار ثابت شي.

پاکستان ریډنګ پراجېکټ د زده کړې دا مواد تیار کړے دے:

- ټي ائي جي ماډیولز
- ویډیوز
- بګ بکس
- سبقي منصوبې
- ورک بکس
- فلیش کارډونه
- د ارکانو/ هجو چارټونه
- د زبر، زېر، پېښ چارټونه



## وړومبی ورځ (خبرې اترې، پېشن ګوئي او سابقه معلومات)

### د لوستلو نه وړاندې

» ماشومانو ته د قیصې سرپاڼه ښودلو په وخت لاندینۍ پوښتنې وکړئ.
» ستاسو په خیال دکوم تقریب خوشحالي کولې شي؟
» ستاسو په کور کښې کومې کومې ښادۍ کېږي؟

### د لوستلو دوران کښې

» د صفحه 2 تصویر وښایئ او تپوس وکړئ چې ټول مارغان په کومو کارونو کښې مصروف دي؟
» د صفحه 6 تصویر وګورئ او ووایئ چې بلبلې ته کومې تحفې ملاؤ شوې.

### د لوستلو نه پس

» کومو مرغو په شریکه کېک جوړ کړو؟
» کومې مرغۍ د ټولو پام ګړۍ ته کړو؟

## دویمه ورځ (د ارکانو مشق)

### د لوستلو نه وړاندې

» تاسو نن د کومو تورو اوازونه زده کړل؟
» نن به مونږ د "ش" او "خ" تورو والا ټکي لولو تاسو ددې ټکو اوازونه ښودلے شئ؟

### د لوستلو دوران کښې

» په صفحه 3 جمله "ټول داسې خوشحاله وو لکه چې اختر وي" ولولئ او تپوس وکړئ چې په دې جمله کښې /خو/ لرونکے ټکے وښایئ. مطلوبه جواب: "خوشحاله"
» د لاسو نو پړقولو سره په ماشومانو د ټکو هجې بیلې کړئ. خوشحاله. /خوش/حا//له /.
» په دې کښې څومره هجې دي؟ مطلوبه جواب: درې
» د هجو په چارټ کښې پرې د "خو" رکن په نخښه کړئ.

## درېمه ورځ (ذخیره الفاظ، مورنۍ ژبه/د ماحول ژبه)

### د لوستلو نه وړاندې

» د سرپاڼې په تصویر کښې "شمعې" ته اشاره وکړئ او تپوس وکړئ:
» ستاسو په ژبه کښې دې ته څۀ وائي؟

### د لوستلو دوران کښې

» په صفحه 3 د "پوکنو" تصویر وښایئ او تپوس وکړئ:
» تاسودې ته څۀ وایئ.
» د صفحه 3 جمله" ټولو وئیل، سالګره دې مبارک شه" ولولئ او ماشومانو ته ووایئ چې دا جمله په خپله ژبه کښې ووایئ. پېراګراف یو ځل بیا ولولئ او په صفحه 7 د ګړۍ تصویر وښایئ او پوښتنه وکړئ چې دې ته تاسو کور کښې څۀ وایئ

## څلورمه ورځ (د چھپایې تصورات)

### د لوستلو نه وړاندې

» ماشومانو ته ووایئ چې اوس به مونږ قیصې لوستل شروع کوو. د کتاب مخه او شا ورته وښایئ. د سرپاڼې، د قیصې نوم، لیکوالو، د تصویرونو جوړونکیو نومونه ولولئ او په نخښه کړئ.

### د لوستلو دوران کښې

» د کتاب صفحه 1 راواړوئ او تپوس وکړئ چې قیصې د کوم اړخ نه شروع کړو؟
» وړومبی کرښه ولولئ او تپوس وکړئ چې اوس به د کوم اړخ نه نوې کرښه شروع کوو؟ تاسو ته په دې تصویر کښې څۀ څۀ ښکاري؟

### د لوستلو نه پس

» په صفحه 3 دمه واخلئ او تپوس وکړئ، ددې مخ نمبر څۀ دے؟.
» د دې مخ اخرې ټکي باندې ګوته کېږدئ او وښایئ.

## پینځمه ورځ (ذخیره الفاظ، محاورې)

### د لوستلو دوران کښې

» په صفحه 4 جمله "شانو چې دا هر څۀ ولیدل نو د خوشحالۍ نه په جامو کښې نه ځائېده" ولولئ او "په جامو کښې نه ځائېدل" مطلب په جمله کښې واضحه کړئ. لکه "زۀ چې په ټسټ کښې پاس شوم نو د خوشحالۍ نه په جامو کښې نه ځائېدم". ماشومانو ته ووائي چې هغوي هم جملې جوړې کړي.
» په صفحه 6 جمله "هغوي چې د شانو مخ ته کتل نو زړونه يې د خوشحالۍ نه من من غټ شول" ولولئ او د مثال په ذریعه جمله واضحه کړئ لکه."مور پلار چې خپل بچي په نمونځ ولیدل نو د خوشحالۍ نه من من غټ شول" اوس په هغوي یو څو جملې جوړې کړئ.

## شپږمه ورځ (خبرې اترې، ذاتي ژوند سره تعلق)

### د لوستلو نه وړاندې

» ټولو ملګرو ولې غوښتل چې بلبلې له سالګره وکړي؟
» تاسو چرته د خپل دوست سالګره کړې ده؟

### د لوستلو دوران کښې

» شانوبلبلې له خپلو ملګرو کومې کومې تحفې ورکړې؟
» که چرې تاسو خپل ملګري له د سالګرې تحفه ورکوئ نو هغه به څۀ وي؟

### د لوستلو نه پس

» ستاسو په دې قیصې کښې کوم کردار خوښ دے ؟ ولې؟
» کۀ تاسو د دې قیصې اخرې حصه بدله کړئ نو هغه به څۀ وي.

www.pakreading.org

This publication is made possible by the support of the American people through the United States Agency for International Development (USAID). It is produced by the USAID-funded Pakistan Reading Project in collaboration with the provincial/regional government. The contents are the sole responsibility of the project and do not necessarily reflect the views of USAID or the United States Government.

د دې موادو خپرونه د امریکائي خلقو په مرسته د امریکې بین الاقوامي ترقۍ اداري په لاس ممکن شوې ده. دا مواد یو ایس اېډ. پاکستان ریډنګ پراجېکټ د صوبائي/علاقائي حکومتونو په مرسته او شراکت سره تیار کړې دي. ددې موادو ټوله ذمه واري د پاکستان ریډنګ پراجېکټ ده. او دا ضروري نۀ ده چې دا د یو ایس اېډ یا د امریکائي حکومت د نظریې عکاسي کوي.